AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

په اروپا کی دمیشته افغانانو د تولنو فدراسیون
فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا

Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe

فارو ۲۰۱٤/۰۱/۱۷

# د پښتو غښتلی شاعر او ادبی څیره
# خدای بخښلی نصر الله حافظ په حق ورسید

باغ دګلوبه سمسوروی مونږبه نه یو
دبلبلوبه پری شور وی مونږبه نه یو

د۱۳۹۲لمریزکال دوهم نیمایی د پښتو د شعر او ادب د پاره د لویو ضایعاتو دوره وه. لومړی د پښتو غښتلی شاعراوادبی څیره خدای بخښلی نصر الله حافظ په حق ورسید اواوس دپښتودمعاصرشعر، ادب او فرهنګ وتلی استاد اروابناد صدیق پسرلی مرینه دافغانستان دشعراو ادب دمینه والو دخپګان او دفارو دکلتوری کمیتی دمسؤلینو دژوره خواشیني سبب شو. دفارو د ۵۳ ټولنو په استازیتوب د اراوبناد محمد صدیق پسرلی او خدای بخشلی نصر الله حافظ صاحب درنې کورني ، خپلوانو او د ادب مینه والو ته د زغم، صبر او تسلیت مراتب وړاندې کوو.

استاد صدیق پسرلی د۱۳۰۷ لمریزکال دوری په میاشت په غزنی کی پیدا شوی وه د ۱۳۹۲لمریزکال دمرغومي په ۲۲ نیټه په هندوستان کې د ورپیښې شوی ناروغۍ له امله په حق ورسید. داروابناد استادپسرلی دجنازې لمونځ د کابل په عیدګاه جامع مسجد کې د سل ګونو مینه والو، چارواکو او دفرهنګي کړیو او د اروابناد د کورنۍ لخوا ادا اودده دتدفین مراسم په ډیرعزت سره دکابل په ریاض الصالحین هدیره کی تر سره شو.



دتدفین په مراسمو کی پیژندل شوی پښتو لیکوال او کره کتوونکي استاد حبیب الله رفیع د استاد پسرلي په اړه وویل: «پسرلي صاحب د خپل ژوند ټوله برخه دغاټول په څیر دکړیو څخه لرې په صحرا کې ازاده تیره کړی او د وخت دهیڅ حکومت تر سیوري لاندی نه وو راغلی.»

داروابنادپسرلی چاپ شوی آثاردا دي: بسته ور، د نی کوڅه، کوچی ملا (ناول)، بخملی صحرا(ناول) اودغزل بڼ (دښکلی غزلونوټولګه).

دغزل بڼ دښکلی غزلونو اوشعری صنعتونو نه بدایه غزلوکمیابه زیرمه ده. افغان کره کتونکي او ادبپوهان ته په کارده چه داروابناد پسرلی غزلونه وڅیړی او پخپلو څېړنو کې دده دشعر ښکلاوې او ځانګړنې رابرسېره او د دغه نامتو شاعر حق په ځای کړي.

ښاغلي بسرلی په ۱۳۵۹ کې پېښور ته مهاجر شو او د شپیتمو کلونو په پیل کې یې د «سپیدې» په نامه یوه مجله راوکښله، چې تر ۱۳۶۴ لمریزه پورې په منظم ډول چاپېده. په ۱۳۶۱ کې د پاسني په مستعار نامه «د وطن ویر »په نوم د حماسي او انتقادي شعرونو ټولګه یې چاپ شوه. په ۱۳۶۶ کې د سپیدې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



چاپ بیا پیل کړ. او ورسره يې د افغان کلتوري ټولني بنسټ هم کښېښود. تر دې څه موده وروسته يې د افغان ادبي بهير بنسټ کېښود او د هغه مشري يې ومنله. په ۱۳۷۷ لمريز کې کډون کابل ته راغی او ترمرينه په خپل کور کې په ادبي هڅو بوخت وه .

د اروابناد نصرالله حافظ مړينه افغان ملت اوټول ادب خوښونکو ته لویه ضایعه ده. د لوی ښتن نه خدای بخښلی نصرالله حافظ ته دفردوس برين غوښتنه کوو.

حافظ صاحب خپلی زده کړې د چپرهار په لومړني ښوونځي کې پای ته رسولي دي او نورې زده کړې يې په ۱۳۳۱ لمريز کال په کابل کې بشپړې کړ. په ۱۳۳۳ لمريز کال کې دپښتنۍ تجارتي بانک د ((وېښا)) د مجلې مسلکي غړی شو. په ۱۳۳۹ لمريز کال کې د پښتون غږ د مجلې مرستيال او وروسته د راډيو د روزنې د ادارې د پښتو برخې چلوونکی وټاکل شو. په ۱۳۴۳ لمريز کال کې د راډيو د تدقيق مدير او د هنر او ادبياتو د ادارې مرستيال وټاکل شو. حافظ صاحب پنځه پنځوس کاله په راډيو افغانستان کې د پښتو ادبياتو په برخه کې کار کړی دی. خدای بخښلی حافظ صاحب ۱۳ چاپ شوی او۲۶ نه چاپ شوی آثارلری.

دپښتو ژبی دادبیاتوځوان مینه وال ته داهم پکارده چه دپښتوادبیاتودتاريخ په هکله دانترنت اودغربی نړی دکتابتونونه په ګته اخيستلوسره ژوری څيرني وکړی. ترڅودعلامه پوهاند عبدالحی حبيبی هغه هيله تر سره شي چه ۱۳۵۳ لمريزکال دقوس په پنځلسمه نيټه دخپل بی ساری اثر(دپښتو دادبیاتوتاریخ) ددريم چاپ په سريزه کی ليکی:«زه بيا هغه خپله هيله تکراروم. چه ددی کتاب څلورم چاپ ته زمونږعلمی محيط اړنشی اوتر دی زياته ګتوراوتحقيقی آثاردنوی علم تر رڼا لاندی راووځي اوداخبره ثابته شي چه زمونږنوی نسلونه دپوهنی پرسمه لار په رڼو سترګو روان دي او کولای شی، چی داسلافو بل کړی کوچنی څراغ، لوی ځلانده مثال کاندی او دتحقيق اوڅيړنی په رڼا کی خپل ژوندښه سمبال کړی. »
اروابنادحافظ صاحب بايد په افغانستان کې د پښتو د اوسمهال غزل د مخکښانو څخه وشميرل شي، دده غزلو کې د فورم له پلوه د اصيل کلاسيکي شاعرۍ اغيزې او د محتوا له پلوه د نوې زماني غوښتنې او زموږ د ماحول او چاپيريال ارمانونه سره يوځای کيږي. دمثال په توګه حافظ صاحب ديو اصلاحی شعربه پيل کی داسی غږکوی:

د شمشاد له هسکې څوکې      د خـيـبـر د زړه لــه نوکې
هــرې خواته وهم کوکې      څوک يې اوري او که نه؟

«دفارو کلتوری کميته»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ